ROSHAN

Nazdik Shodan

# د چټکې خپرونې لپاره

د روشن مخابراتي شرکت په علاوالدين وړوکتون کې د کمپيوټر يو ټولګی افتتاح کړ

کابل، افغانستان (۱۱ حمل ۱۳۹۵) – روشن، د هيواد مخکښ مخابراتي شرکت، نن په علاوالدين وړوکتون کې د کمپيوټر يو ټولګی افتتاح کړ. د روشن شرکت دغه ټولګی په ۱۶ کمپيوټرونو او نورو اړونده وسايلو سنبال کړی دی. دغه ټولګی د يو ځانګړي محفل په ترڅ کې چې د افغانستان د وړوکتونونو رئيس هم په هغې کې شتون درلود، افتتاح کړ.

د روشن مخابراتي شرکت عمومي رئيس، ښاغلي کريم خواجه په خپلو خبرو کې وويل:" د روشن شرکت يوازی د يو مخابراتي شرکت په توګه فعاليت نه کوي بلکه غواړي چې د افغانستان په بيارغونه کې ارزښتناکه ونډه ولري. مونږ هيله لرو چې د علاوالدين وړوکتون سره زمونږ دغه مرسته به نور شرکتونه په ځانګړی توګه مخابراتي شرکتونه هم وهڅوي تر څو د هيواد د ځوانانو ملاتړ وکړي او د هغوی د راتلونکی په روښانه کولو کی ارزښتناکه ونډه واخلي."

د افغانستان د وړوکتونونو رئيس، ښاغلي الحاج سيد عبدالله هاشمي چې پدی محفل کی يی ګډون درلود، وويل:" مونږ د روشن مخابراتي شرکت څخه مننه کوو چې د دی کمپيوټرونو په چمتو کولو سره يی زمونږ د هيواد د بی وزله کوچنيانو سره مرسته وکړه. مونږ هيله لرو چې د روشن شرکت دغه کړنه به د نورو مخابراتي شرکتونو لپاره يوه نمونه وګرځي تر څو هغوی هم همدغه ډول پروګرامونه په لاری واچوي او د دی لاری د هيواد د راتلونکي نسل سره مرسته وکړي."

د روشن ټولنه د روشن مخابراتي شرکت د ټولنيزو فعاليتونو برخه ده چې روشن د هغی د لاری تر اوسه پوری په ټول هيواد کی سرتاسره ۱۰ ښوونځي، ۳۵ د انټرنيټ له لاری د زده کړی مرکزونه(**E-learning Center**)، ۲۹ لوبغالي، ۲۰۵ د اوبو څښلو څاه ګانی او په لسګونه نوری خيريه پروژی بشپړ کړي او خلکو ته يی د ګټی اخيستنی لپاره سپارلي دي."

څه موده مخکی، د روشن مخابراتي شرکت د آشيانه په خيريه موسسه کی هم چې د افغانستان د لومړنيو خيريو موسسو څخه ده او بی وزله کوچنيانو ته د تعليم او تربيی موکه ورکوي، افتتاح کړ. د ۱۳۸۳ کال راپديخوا روشن د آشيانه له لاری دغه کوچنيانو ته خواړه هم چمتو کوي.

**د روشن په اړه**

روشن (دافغانستان دمخابراتو د پراختيا شرکت) د افغانستان مخکښه مخابراتي کمپنۍ ده چې تر ۶،۵ ميلونو څخه ډير فعاله پيرودونکي او تر ټولو غوره شبکه لري چې د هيواد په ۳۴ ولايتونو کې د ۲۸۷ څخه ډيرې ولسوالی او ښارونه يې د پوښښ لاندې راوستي دي.

روشن د افغانستان د برياوو ښه نمونه ده چې د هيواد په پرمختګ کې فعاله ونډه لري. په ۲۰۰۳ کال کې د فعاليت پيلولو څخه تر دې دمه يې په افغانستان کې ۶۰۰ ميلونه ډالره پانګه اچونه کړې ده او د هيواد تر ټولو لويه پانګه اچوونکي او ماليه ورکوونکي کمپنۍ ده چې د افغانستان د کلني داخلي عوايدو تقريبا ۵ سلنه برابروي. روشن په مستقيمه توګه ۹۰۰ افغانان په کار ګمارلي چې دهغو له جملې څخه ۱۹ سلنه يې ښځې دي. او همدارنګه ۳۵۰۰۰ افغانانو ته يې په غير مستقيمه توګه د کار آسانتيا برابره کړې ده.

Nazdik Shodan

روښن د افغانستان بیارغوني او پرمختګ ته هراړخیزه ژمنتیا لري. د اقتصادي پرمختګ لپاره د آقا خان سېما (AKFED)، چې د آقا خان د پرمختیایي شبکې(AKDN) یوه برخه ده، د روښن تر ټولو ډېر پانګه اچوونکې دې چې په وروسته پاتې هیوادونو کې د اقتصادي زیربناګانو او شخصي تشبثاتو څخه ملاتړ کوي. همدارنګه دروښن یو اندازه پانګه اچونه د موناکو ټیلیکام انټرنیشنل (MTI) او ټیلیا سونیرا له خوا تر سره شوې. روښن افغانستان ته نړیوال مهارتونه راوړي او د افغانانو لپاره د باکیفیته شبکې چمتو کولو ته ژمن دې.

د روښن په اړه د لا نورو معلوماتو لپاره www.roshan.af یا www.facebook.com/RoshanConnects ته مراجعه وکړئ. تاسو همدارنګه کولای شی مونږ د ټویټر له لارې @roshanconnects تعقیب کړئ.

**د روښن سره د اړیکې لپاره**

شفیع شریفی

ایمیل: shafi.sharifi@roshan.af

ټلیفون: 0093799999065